عبدالمجید سالم ۲۰۱۱/۱۰/۲۰

# عوامفریبی هم یو حد لری!

د «افغان جرمن آنلاین په پورتال» کی می دا مطلب تر سترګو سو: «**فاطمه رباني: پلار مې غوښتل چې د ځانمرګو بریدونو د تحریم فتوا ترلاسه کړ** ». دا عجیبه ادعا ده. زه البته د یوه اولا، خصوصاً د یوی لور احساس ته چه د مور او پلار په مقابل کښی یی لری، احترام لرم. زمونږ دا فرهنګ او اسلامی روزنه هم ایجابوی. لیکن دا ځوانه میرمن باید د خپل سیاسی قضاوت او تفکر کښی، خپل منطق پکار واچوی. د پلار مادی میراث کیدای سی چه د بازماندګانو تر مینځ د اسلامی حقوقو پر اساس «ترکه» سی. ممکن د مصر د ازهر د پوهنتون داسی یو فارغ التحصیل، د کورنی غړو او په تیره بیا اولادو ته مشروع او نا مشروع او یا د حلال او حرام او داسی بی شماره نور اسلامی او دینی درسونه ورکړی وی. په تیره بیا چه د استاد لقب یی په خپل پیروانو کښی تر لاسه کړی وو. د برهان الدین ربانی د مرګ موضوع او پر هغه شکل باندی به حقوق دانان او نور متخصصین خپلی فتوا ګانی او فرمانونه ولری. اما تاریخ به دده دتیرو اعمالو باندی به هم ډیر عادلانه او په سړه سینه قضاوت وکړی او دا قضاوت به د لور، زوی او نورو پلویانو په فرمایش نه وی. داسی عادلانه قضاوت ته لا وقت سته.

کله چه نږدی شل کاله پخوا برهان الدین ربانی، مسکو ته سفر وکړ او ورته ددی جنګ ځپلی خاوری د رهبری د واک سپارلو وعده ور کړسوی وه، دی باید په هغه وخت کښی، <u>د اسلامی اصولو پر اساس عمل کړی وای</u>، او په کافی اندازه <u>«فتواګانی» به برابر کړی وای، چه نور د اسلام پر اصول ولاړ د افغانانو « جهاد» پخوانی مرحله ختمه ده، ددی حالت ادامه «ورور وژنه» ده، او د اسلام په دین کښی د ورور وژنه او حتی د هر بی ګناه انسان وژنه «کبیره » ګناه ده</u>. زه نه غواړم د داسی یو دینی عالم لور ته د اسلام د شرطونو درس ورکړم، خو باید و پوهیږی چه سیاسی مسایل باید سیاسی و څیړل سی او همدا رنګه نور حقوقی او یا جرمی احتمالی اعمال هم باید، هم هغسی د کارپوه تاریخدانانو له خوا و څیړل سی.

هغه ورځ چه برهان الدین ربانی د پیښاور څخه د یو اوږد کاروان په سر کښی کابل ته را ورسید او دده پلیانو ور څخه د مرمیو په هوایی ډزو استقبال و کړل او بی حسابه تروورونه هم تر سره سوه، د کابل اوسیدونکی ښه خبر دی. دد ه اودده د ملګرو ویرانی، او دا چه دا خوار ملک یس له هغی څخه د یو بل داخلی جنګ کښی واچاول سوه. هیڅوک به دده د لور څخه، د هغه وخت د حادثو په اړه پوښتنه ونکړی، ځکه هغه وخت دا به د لسو کالو وه.

خو زه هغه څه چه په یاد لرم ور ته بیانوم، ددی د پاره، که چیری سیاست کوی نو د خپل ماغزه څخه کار واخلی. دا حق ددی څخه هیڅ څوک نه اخلی. کله چه ددی پلار د قدرت واک یی د خپل قوماندانانو په حمایت لکه احمدشاه مسعود او نور تر لاسه کړ، نو یی په خپلو بیانیو کښی ویل چه، دی او د هغه « جهادیانو» شوروی اتحاد ړنګ کړ، د «برلین دیوار یی و نړاوه» او داسی نور. د دوی د لاسه کابل آر او ولایت په لمړیو و ختونو کی د خاورو سره برابره سوه، چه ده او دده قوماندانانو ته ځای نه وو پاته. په لمړی کلونو کښی د افغانستان ښکلی او تاریخی پایتخت داسی ړنګ سو چه د یوه ژورنالیست د راپور پر اساس، خپل نقش یی د پایتخت په توګه چه ځینی کار اخستل سوی وای، د لاسه ورکړ.

کله چه د طالبانو قوتونه، کابل ته را نږدی کیدل، ددوی رهبرانو د فیض آباد، بلخ او یا پنجشیر سیمی، د معشیت ښه تره ځایونه و بلل. په کابل کښی دده او د پلویانو حاکمیت اقلاً ۵۰۰۰۰ کابلیان او بی ګناه افغانان یې قبر ونو کښی واچاوه او په سل ګونو زرو و طنوال نور هم د وطن په پریښودلو اړ سول او ملیونونه، هم په خپله خاوره کښی سرګردانه مهاجرسول. پدی متن کښی ځای نسته چه یو مکمل و پر مستند حقایقو ولاړ تصویر جوړ سی. خو دا به هم د یوه سړی وظیفه نه وی. باید ټول افغان د برهان الدین ربانی د لور په شمول حاضرسی چه حقایق را ټول کړی، تر څو چه حیقت ته و رسیږو چه دا جنګ د چا په ګټه ده. دی میرمنی چه تردی دوه نیم چنده عمر به می وی دا وایم چه د افغانستان خلک ښه پوهیږی چه دا ډلی ځنګه قدرت ته رسیدلی او د دوی د ۲۰۰۱ څخه را پدی خوا ټولی کارنامی، بی پوښتنی پاتی دی. دلته یو ځل بیا په تأکید وایم چه کم د کمه د ۱۹۹۲ کال څخه هره ورځ او هره حادثه یی ددی وړ وه چه، برهان الدین ربانی د شرغیاتو د پوهنځی پخوانی استاد د اسلامی «فتواګانو» په فکر کښی وای، چه دی شل کاله وروسته، چا دی ټکی ته پام را اړولی وو. په پرنسیپ کښی د ځانمرګی او یا د بم ایښودلو تر مینځ ډیر فرق نسته. آیا دده ا و دده د قوماندانانو په امر به په بازارونو او میدانونو کښی کم بمونه چاویدیدلی وی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کله چه دده قوماندان د افغانی اتباعو تر مینځ چه دا دری لسیزجنګ روان دی او هر یو یی په خپل سر د «دشمن» تعریف کوی، حال دا چه غیر سیاسی او غیر جنګی افغانان، ټولو ته خپل وطنوال بولی، او دغمونو ډک ورځی تیروی، ایا بر هان الدین ربانی خپل پلویانو ته کوم وخت ویلی وه، چه خپل د دښمنی مفهوم ته یو ځل بیا غور وکړی او وواییی چه وینه په وینه نه مینځل کیږی. د ده اسلامی رسالت چیری روښانه سوی، چه اوس ورته مخکښی تر دی چه حسا پاک وی د تقدس مقام ورکړی.

د ربانی لور ته چه غواړی د خپل پلار نیتونه مقدس معرفی کړی د زر ګونو یتیمانو په نمایندګی، چه همدا اوس غټ سوی خو بی پلاره لوی سوی، او د خپلو پلورونو د ډیر محدودو عسکونو مخی ته ګوری، او ددوی دا زخمونه هم په ټول عمر کښی بی علاجه پیژندل سوی، دا وایم: چه ددی پلار هم په خپل وروستی هدف کښی، که حقیقت ولری ډیر بی وخته او نا وخته اقدام کړی. د ده وروستی دوستان لکه ګرباچف، (یلتسین او پوتین هم) یو وخت په برلین کښي، د برلین د دیوال د نړیدو څخه دمخه ویلی وه چه: « څوک چه نا وخته راسی، تاریخ ور ته جزا ورکوی» او په کلیو کښی هم، معمول دی، کله چه یو چرګ سهار نا وخته «آذان وکړی»، نو هغسی چرګ حلالوی. داځکه چه دوی یی، بد «شوګون» بولی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ